# د پښتو معياري املاء او د باړه ګلی فیصلې

# Pashto Standard Orthography And Bara Gali Decisions

Dr. Ayat Ullah Khan Wazir *
Dr. Noor Muhammad (Danish Bettani) **

## Abstract:

Every nation is identified by its language. And the basis of language is Orthography. Pashto language that is spoken in a large part of the world, It has its own special letters and phonemes. Pashto has characters that not found in other languages of the world. So here we are writing about standard orthography of Pashto, and try to solve the problems that Pashto orthography is facing. There is only one solution, and those are the seventeenth 17th decisions implement on Bara Gali. If this is followed, all these difficulties can be removed. This article is also written about it.

Key words: Nation, Language, Orthography, Pashto, Decision, Bara Gali, World, Implement

املاء دراصل د رسم الخط مطابق توريو ليکلو عمل ته وائي- اوس سوال د پېدا کېږي چې رسم الخط څۀ ته وائي؟ نو په کار ده چې د توريو او املاء نه وړاندې د رسم الخط په حوالې سره کوټلې او واضحه وينا مخې ته راوړم-

لنډه وينا خو به ئې دا وي- "د ژبې وېناګانې په ليک صورت کښې راوړولو ته رسم الخط وائي-"

البته رسم الخط د دوؤ توريو مرکب دے چې يو "رسم" او بل "خط" دے-

رســـــم:

رسم معنا د مختلفو ژبو په لغتنو کښې کاربدلے تورے دے- په انګرېزۍ کښې ورته

Ritual (رسمي)

* Lecturer Pashto Department ICP
** Asstt Prof Pashto Academy University of Peshawar.

| | |
|---|---|
| (عادت، عمل، مشق، مشاقي، رسم) | Practice |
| (تقریب، رسم) | Ceremony |
| (دستور، حاصل، نظام، عادت، راح، سامان، رسم) | Custom |
| (مذهبي رسم) | Rite |
| (تحریر، دستاویز، نوشت) | Script (1) |

دغه باندې ټولې معنې ګانې په انګریزۍ کښې د یو رسم توري له پاره کارولې شي- شاید چې په دې سبب انګریزي ژبه د نړۍ تر ټولو پراخه ژبه شمېرله شي- البته زما په اند داسې هېڅ کله نۀ ده ځکه د یو رسم توري له پاره په پښتو کښې لسګونه معنې اخیستې شي خو د بده مرغه زمونږ ژبه هغه ایلت نۀ لري چې نړۍ توجو ورکړي-

دا به واضحه کړم چې د انګرېزۍ په دې باندې توریو کښې Script معنا زمونږ د موضوع برخه ده-

په اردو کښې د رسم معنا په:

*ریت، رواج، دستور، طور، طریقہ، روش، عادت، قاعدہ، قانون، آئین، اصول، ربط، میل جول، تعلق، نقش، نشان، رقم، تحریر، نوشت(2)*

او داسې نور – دغه تورے د عربۍ په لاره پښتو ژبه ته راغلے دے باندې ئې بلها ډېرې معنې وړاندې شوې البته زمونږ مطلب د رقم، تحریر یا نوشت سره پوره کېږي-

دلته د رقم نه مراد پیسې نۀ دے بالکل په معنا د لیکلو کارېدلے دے- پښتو لغت د "رسم" معنا په دوؤ ډوله راوړې ده- یوه معنا ئې "د بوسو نه صفا شوي غله:" ده او بله په رسمونه، رواج، قاعده او دستور ورکوي او ورسره ئې د ستر خوشحال بابا دغه شعر هم رقم کړے دے-

د تقلید رسم عدت یاري خپلوي کا
د هـــــر چا نظـــــر په خپله مدعا 3

دلته د درې واړو (پښتو، اردو او انګرېزي) ژبو معنې ګانې وړاندې شوې- دې نه سېوا که هر څومره ژبو وېناګانې وړاندې وکړو او په کښې د رسم معنا وګورو نو نتیجه به ئې هغه یوه رووځي چې یوه معنا به په کښې د لیک خا مخا وي- نو غواړم چې د رسم په ډول د "خط" هم وضاحت وکړم-

خـــــط:

د پښتو نه سېوا د خط په نورو ژبو کښې هغه معنې ګانې رااوخي چې په مطلب کښې ئې هېڅ قسم توپیر یا تغیر نۀ ښکاري- ورومبنے معنې ګانې ئې د انګرېزۍ راوړل غواړم- خط ته په انګرېزۍ ژبه کښې وئیلي کېږي-

| | |
|---|---|
| لاس لیکنه | Handwriting (writing, script) |
| خط | Letter (note, epistle) |
| کرښه | Line (streak or stripe) |
| کردار | Character (mark) |
| | Facial hair (beard, moustaches) |
| | Parting of hair |
| | Sharpness (edge of sword) etc (4) |

په ریخته کښې خط له پاره پرېمنې منعې راوړې شوي دي چې دلته ئې په ترتیب سره راوړم-

- د څۀ څیز په باندنۍ حصه باندې نخښه یا علامت، خراش (هغه نخښه چې د نوکو لګولو یا په بل څیز سره کاټ لګېدلو نه جوړه شوې وي)، فنا کولو والا-
- د کاغذ په تکړه باندې په قلم سره څۀ لیکل او بل ته لېږل چې په حرف عام کښې ورته چېټي یا رقعه هم وئیلې کېږي-
- په تنده باندې چې کوم کرښې راغلې وي هغه ته هم خط وائي-
- د هلکانو په مخ باندې ورومبني ویښته راټوکېدلو ته هم خط وئیلے کېږي-
- حجامت چې کوم ویښته جوړه وي-
- په سکولونو کښې ماشومان په تحتو چې کوم لیک وړاندې کوي د ټولې معناګانې د خط په زمره کښې راځي- (5)

دا هر څۀ نه پرته خط دلته مونږ یو معنې او مطلب د پاره راوړو چې هغه د پښتو املاء ده چې په پښتو ژبه ورته لیک دود وائي۔

زۀ د لیک دود په تاریخي جنجال کښې نۀ پرېوځم چې د قاضي سیف الله نه وړاندې پښتو ژبه په کوم لیک دود کښې لیکله شوه۔ البته د پیروښان په املاء او د قاضي سیف الله پخوانۍ لیک دود کښې د حرفونو اضافت باندې لنډه شانتې وېنا ضرورده۔ تر لسمې صدۍ عېسوۍ پورې پښتو په خروشتي لیک دود کښې لیکله شوه چې ګروتهي هم ورته وئیلے شي۔ دغه یوه افسانه یا هوائي خبره نۀ ده بلکې په دې لیک دود کښې ئې په باقاعده ډول نمونې موندلې شوې دي چې اوس هم د پښتونخوا په مختلفو میوزیمونو کښې سمبلې دي۔ هر کله چې د اسلام مقدس دین په ګرده نړۍ کښې خپور شو او عربۍ ژبه په نورو ژبه حاوي شوه نو پښتو هم په نستعلیقو کښې لیکله شوه۔ چونکې د پښتو ژبې کلمې د عربۍ ژبې سره تر یو حده تغیرات لري چې د هغوي په دې نهه ویشتو حرونو نۀ پوره کېدې۔ تقریبن پینځۀ سوه کاله څۀ دې پاسه دغه کمے بایزید انصاري المعروف پیر روښان دغه کمے محسوس کړو او پښتو ژبه ته ئې دیارلس مستعمل او مستقل حروفونه ورکړل چې تر نن وخت پورې د پښتو ژبې برخه دي او لوے کمے ئې پوره کړے دے۔ البته په دغو دیارلسو کښې پینځۀ حرفونه اوس هم مستعمل دي باقي اتۀ حرفونه محض د یو شاعر د وېنا له مخې یادېږي: افغاني لفظ مشکل وۀ لوست کوېښ نۀ شو، ورته وشو کننده دیارلس حرفونه۔ دغه شعر مناسبت د بایزید انصاري د حروفو ابجد کولو سره په دې سبب هم شوے دے چې په دا نه وړاندې یو بل شعر هم شته او په هغه کښې د خیرالبیان نومي کتاب نوم راغلے دے د مثال په توګه: په څلور لفظه ئې جوړ خیرالبیان کړو، موافق شو په ایات په حدیثونه۔ دغو حرفونو لیک شکل د موجوده پښتو کښې مستعمل کېدونکي حرفونو نه بدل دے البته د وېنا انداز ئې هغه دے۔ ډېر داسې زده کوونکي شته چې د موصوف دغو حرفونو په حوالې سره ئې بې شماره واري اروېدلي دي خو لیدلي ئې نۀ دي حلانکې د خیر البیان په قلمي نسخه کښې شته چې په دې ډول دي:

1 -په خیرالبیان کښې /ځ/ په /□/ ډول لیکلے شوے دے د دال حرف لاندې نکته لګېدلې ده چې (ځینو) ته (□نو) لیکي۔

2 -بل د /ړ/ آواز دے چې هلته په /د./ دې ډول لیکلے شوے دے- د دال آواز په مینځ کښې نکته راوړې ده-
3 -د پښتو موجوده ځانګړے آواز /ښ/ به ئې داسې لیکلو چې د سین نه لاندې به ئې درې نکتې کولې-
4 -د /ځ/ آواز شکل ما پېدا نهٔ کړو چې مخې ته مې راوړے وے-

دا هغه حرفونه یا آوازونه دي چې په پښتو ژبه ځانګړے حېثیت لري- البته پیر روښان بابا د نورو ژبو نه راخیستونکي آوازونو کښې هم بدلون کړے دے چې دلته ئې د راوړلو ضرورت نهٔ محسوسه وم- دغه بحث کښې به خبره نوره هم اوږده شي البته دې نه پس د لوے قهرمان، مبارز او ادیب د خوشحال خان خټک دوره شروع کېږي چې پښتو ژبه ئې تر خپله وسه په بام خېژولې ده شاید چې ورسره نوره وسیله نهٔ وه ګني تر سپوږمۍ یا مریخ به ئې راسولې وه- دا هغه سپېځلے روح دے چې بایزید انصاري المعروف پیر روښان د حرفونو سره ئې پښتو ژبې له په ښېل انداز کښې حرفونو وټاکل او هغه ته ئې زنځیري رسم الخط نوم ورکړو چې په دې ډول دي-

ځیم /ځ/ آواز ته د بغېر نکتې والا حې /ح/ آواز ته په مینځ کښې /ء/ ورکړې ده او یا ئې د جیم /ج/ آواز په مینځ کښې /ء/ کښې راوړې ده-

څې /څ/ ئې هم څهٔ په دې ډول لیکلے دے چې بغېر د نکتې والا خې /ح/ په مینځ کښې دوه نکتې راوړې دي او ورسره ئې /ء/ آواز هم لګېولے دے-

په ډال /ډ/ آواز کښې ئې د دال /د/ آواز د پاسه /ء/ آواز لګولے دے-

دغه شانتې د ړې /ړ/ آواز ئې څهٔ په دې ډول راوړے دے چې د رې /ز/ آواز د پاسه ئې /ء/ آواز راوړے دے-

خین آواز /ښ/ کښې ئې د شین /ش/ آواز لاندې /ء/ آواز لګولے دے-

په ټې آواز /ټ/ کښې ئې په بعضو ځایونو کښې د طې /ط/ آواز لاندې /ء/ او په بعضې ځایونو کښې د طې آواز /ط/ لاندې نکته لګولې ده-

په نوړ /ڼ/ آواز کښې چې د پیر روښان ابجد کړے شوے حرف شمېرهٔ کېږي خوشحال بابا د نون آواز /ن/ د باندې /ء/ آواز لګولے دے-

بل د يې آواز /ي/ دے چې خوشحال بابا موجود چې کومه حکمیه /ئ/ آواز دے هغه ئې په زنځیري حرفونو کښې شامله کړې ده-
دغه شانتې د زنځیري لیک دود ټول اتۀ حرفونه جوړېږي چې موجد ئې خوشحال خان خټک دے-

د شپاړلسمې صدۍ عيسوۍ يا يولسمه صدي هجرۍ نه تر شلمې صدۍ عيسوۍ پورې د پښتو لیک دود دغه رواج جاري ساتلے شوے دے چې د هغې ثبوت مونږ سره هغه کتابونه دي کوم چې د نولس سوه څلوېښت پينځوس په مينځنۍ اره کښې د چاپ عمل نه تېر شوي چې يو غټ مثال ئې د ارواښاد بهادر شاه ظفر کاکا خېل کتاب "پښتنو د تاريخ په رڼا کښې" دے- چونکې دلته هم د پښتو ژبپوهانو د پوره کلماتو ادا کولو د پاره په پښتو کښې د بعضو آوازونو کمے محسوس کړے وۀ البته څۀ عملي کار ئې مخې ته نۀ وۀ راوړے چې دغه کمے پوره کولو په حوالې سره په باقاعده توګه غونډې وشوې او مختلفې فيصلې مخې ته راغلې- دغه ټولې اووۀ غونډې شوې دي او ټولې فيصلې راوړل به مونږ ته ګران پرېوځي البته په جون نولس دوه څلوېښت (۱۹۴۲/۶ء) د پښتو ټولنې په غوښتنه په افغانستان کښې وړومبنۍ غونډه وشوه چې ټولو په کښې پينځويشتو پوهانو برخه اخيستې وه او په يوويشت اختلافي موادو باندې بحث شوے وۀ چې اکثر په کلمات دي- (6) هغې نه پس د املاء په حوالې سره دغه سلسله روانه وه چې تقريبن پينځۀ نور املائي غونډې تر سره شوې او اوومه غونډه د جولائۍ په مياشت کښې نولس نوي (جولائي ۱۹۹۰ء) په يو سل دېرشو محققينو او ژبپوهانو په مينځ کښې د باړه ګلۍ په يخ موسم کښې د پښتو اکېډيمۍ پېښور پوهنتون په سربراهۍ کښې د املائي تېروتنو په حوالې سره يوه لويه او انجام ته رسېدونکې غونډه وشوه او مختلفو اوولس فيصلې په کښې مخې ته راغلې- چې نن هم په کتابي شکل کښې موجودې دي- شايد چې دغه ټولې فيصلې په تفصيل سره دلته راوړل به ممکن نۀ وي- البته زمونږ ويونکي په لنډه ترپ عادت دي او د اوږۀ مزل نه ئې په نرمو پښو تناکې کېږي- ګني په کار وه چې د باړه ګلۍ فيصلو په حوالې سره ليکلې شوې کتابچه هر يو پوهه ناپوهه لوستے وے بيا به دومره ستونزې نۀ وے- البته کوښښ کوم چې د اوږد مزل نه ئې بچ کړم او په لنډو دغه اوولس واړه فيصلې ورسره خپرې کړم- مقصد هم دغه دے چې په دې سره به کم از کم ويونکيو ته دغه اندازه وشي چې باړه ګلۍ املاء څومره اسانه ده-

الفبا یعني حروف چې آوازونه هم ورته وائي هغه ترتیب به ئې وي چې د پخوا نه راروان دے البته د څلورو یېګانو اضافت ضرور په کښې شوے دے۔

وړومبنی فیصله دغه شوې وه چې کومې کلمې پښتو ته بلې ژبې (فارسي، عربي، اردو یا انګرېزي) نه راغلې دي۔ بل په پښتو کښې هم په هغه معنا کارېږي چې کومه معنا ئې په خپله ژبه کښې ده۔ د هغوي په لیکلو کښې به هېڅ قسم بدلون نۀ کېږي۔

دویمه فیصله دغه وه هغه کلمې چې پښتو د نورو ژبو (فارسی، عربی، اردو یا انګرېزی) نه خپلې کړې او معنا شکل ئې په راتګ سره بدل شوے دے۔ هغه به د پښتو په حروفو کښې لیکو۔ مثال طورخم به په /ط/ نه بلکې په /ت/ سره لیکو۔ تپوس یا پام به تحفص او فهم نۀ لیکو ځکه چې په پښتو کښې دغه بدل شوي شکلونه دي۔ نو په کار ده چې په خپلو محصوصو آوازونه کښې ئې ولیکو۔ د املاء تېروتنې نه به بچ پاتې شو۔

درېیمه فیصله دغه شوې وه چې د کومې کلمې په اخره کښې نیم خپلواکه د زرو آواز راشي نو هغه به ګرافیم ته اوړي او د زور په ځاے به /ه/ لیکله شي۔ چونکې /ه/ چې د توري په اخر کښې راشي نو د قواعدو په بنا هغه کلمه ښځینه ګڼله شي۔ البته دلته ئې دغه محصوصیت ختم کړے دے۔ البته د /ه/ خپل آواز به ښځینه حسابېږي۔

بعضې معلمینو د مد /آ/ آواز شاملو سفارشات مخې ته راوړل چونکې دغه څلورمه فیصله وشوه چې مد/آ/ آواز به په پښتو کښې نۀ وي۔ په کار وه چې شامل وے ځکه د پښتنو بعضې قبیلې د مد /آ/ آواز ښۀ په سم ډول کاروي۔ خو بیا سوال دا پېدا کېږي چې بعض داسې حرفونه شته چې د پښتنو ځینې قبیلې ئې نۀ شي کارولے نو ایا هغه مونږ اوباسو۔ بالکل نه۔

پینځمه فیصله د مجهولې یې /ے/ وشوه چې سېوا د پښتونخوا په مختلفو سیمو کښې ئې لیک شکل بدل دے نور په کښې هېڅ قسم اختلاف نۀ شته په خیبر پښتونخوا کښې پرته یې /ے/ لیکله شي۔ په جنوبي پښتونخوا (بلوچستان) او افغانستان کښې غونډه یې /ی/ لیکله کېږي۔

شپږمه فیصله د مخصوصه یې /ې/ په حقله شوې ده چې په ګرده پښتونخوا کښې یو شانتې یو ډول لیکله او وئیله شي۔

دغه شانتې معروفه یې /ي/ ده۔ په اوومه فیصله کښې دا اووئیل شول چې معروفه یې /ي/ به د کونډې یې /ی/ په شانتې لیکو البته لاندې څنګ په څنګ به دوه نکتې ورسره کوو۔

اتمه فیصله د ښځینه یې /ۍ/ ده چې په کش سره به لیکله شي- په دې کښې هم ملنګان د پښتنو اختلاف نۀ لري-
فعلیه یې /ئ/ غونډې یې /ی/ په ډول لیکله شي او د پاسه به پرې همزه /ء/ لګېدلې شي- دغه د باره ګلۍ نهمه فیصله وه چې ګړدو پوهانو په جمع سره منلې ده-
ضمیر متصل چې د جملې په اخر کښې راځي اووئیل شول چې د مخصوصې یې /ې/ باندې به همزه لګېدله شي- لکه د مثال په توګه: چرته ئې- نو دلته ئې ضمیر متصل دے- دغه فیصله په لسم نمبر شوې ده-
په یولسم نمبر حج یعني سټرېس توري دي فیصله په دې باندې لنډه شوه چې د /ه/ د پاسه به همزه /ء/ لېګدلے شي-
دولسمه فیصله د ګاف /ګ/ ده- دلته د افغانستان سیمې لیکونکیو سره اختلاف اوس شته- ځکه چې هغه ګاف /ګ/ په کش سره لیکي او د فارسۍ نه راخیستے شوے ګاف /ګ/ لیکي- چونکې د خیبر پښتونخوا پوهان ئې په کونډه ګاف /ګ/ سره لیکي- البته دا دومره پیچیده نۀ ده- محض د کش او کونډې توپیر دے-
دیارلسمه فیصله د کښې وشوه چې په دې که به د خین /ښ/ آواز لیکل لازمي وي ځکه چې ذ خیبر پښتونخوا مینځنۍ سیمه کښې دغه تورے کشي وئیلے کېږي نو په کار ده چې معیاري لیکلو په وخت دغه کې نه بلکې کښې ولیکله شي البته د افغانستان وېناوال ئې کې لیکي-
معدوله واو دا هم ډېره لویه او اهمه فیصله ده چې په څوارلسم نمبر ترسره شوې ده- وئیلي شوي دي چې په دغه شانتې توریو کښې به معدوله واو که وئیلے نۀ شي لیکلے به ضرور شي- دغه فیصله هم په اتفاق سره منلې شوې ده-
پنځلسمه فیصله یو ځل بیا د نیم خپلواکه آواز د پېش ده- د پېش په حوالې سره په دې خبره راغونډه شوه چې کومې کلمې د عربۍ یا فارسۍ نه راغلې دي په هغه به پېش لیکلے شي-
د معروف واو کارونه هم یو ګران کار دے- په شپاړسم نمبر دا فیصله شوې ده چې معروف واو به د کلمو نه نۀ شي غورځېدلے دې د پاسه به پېش لېکدلے شي-
اولسمه او اخرنۍ فیصله د پښتو مخصوصو آوازونو په حوالې سره وه چې د به په خپل شکل کښې لیکل کېږي خوا که په وئیلو کښې ئې ستونزې ولې نۀ وي- (7)

دغه د باره ګلۍ هغه فیصلې دي چې ګړدو پښتنو ته ئې املاء اسانه کړې ده- البته هغه بله خبره ده چې د خپل نرګسیت له وجې مونږ د دومره فیصحه او اسانې املا سره اختلاف لرو- چې قطعاً نۀ دے په کار- وخت په وخت دغه املاء په شعوري توګه په اولس کښې په ګړده پښتونخوا کښې خورولو له پاره کوښښونه شوي دي چې دې کښې تر ټولو نه زیات زیار پروفیسر ډاکټر نصرالله جان وزیر ډائریکټر پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون کړے دے- څو څو ځله ئې سېمینارونه ټاکلي دي، غونډې ئې کړې دي د مختلفو سیمو ژبپوهان ئې په یو ځاے کړي دي په دغه نیت چې د ګړدې پښتونخوا د پاره لاره همواره شي او املائې ستونزې ختم شي او ټول پښتنو په یو مرکز راغونډ شي- تر څۀ حده موصوف په دې کښې کامیاب شوے هم دے- ان شاءالله وخت به راځي چې ګړد پښتانۀ به په باره ګلۍ املاء سره راغونډ کېږي- او چې کوم جمود جوړ شوے دے دا به ماتېږي- ځکه چې دغه یو حل دے او اسان حل دے-

# حوالي

1- English translation powered by Oxford language.

2- Offline Urdu Lughat Dictionary. Free Share Apps, Google Play Store.

3- خټک، خوشحال خان بابا، کلیات خوشحال: ترتیب وسمون محي الدین هاشمي، کابل چاپ، ۲۰۱۷ء، مخ: ۷۶

4- https://en.babla, urdu-english, خط

5- Rikhtadictionary.com

6- الفت، ګل باچا، لیکوالي املاء او انشاء،پښتو ټولنه، ۱۳۳۹هـ، مخ: ۱۱

7- ډاکټر نصرالله جان وزیر، پروفیسر، دپښتو لیک دود دوه ورځینۍ مرکه، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ۲۸-۲۰ دسمبر ۲۰۱۶، مخ: ۹۷-۱۲۴

Refrences:

1. English translation powered by Oxford language.
2. Offline Urdu Lughat Dictionary. Free Share Apps, Google Play Store.
3.Khattak,Khushal Khan baba , Kulyat khushal,tarteb o samoon Mahi uddin Hashmi,Kabul Chap,2017,makh 76.
4. https://en.babla, urdu-english, خط
5. Rikhtadictionary.com
6.Ulfat ,Gulbacha,Likwali imla ao insha,Pakhto tolana ,1339.makh 11.
7.Dr.Nasrullah jan Wazir,Professor,da pakhto Lik dood dawa wrazany maraca,Pakhto Academy Pekhawar Pohantoon,20-28 December 2016,makh 124-97